# یسٓ

**مکی سورة دی ۸۳ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يسٓ ﴿١﴾

**یا - سین! ای سیده، ای پیغمبره!**

وَٱلۡقُرۡءَانِ ٱلۡحَكِيمِ ﴿٢﴾

**قسم په( عظیم الشأن) قرآن( چې د اعجاز او) حکمت له تعلیماتو ډک( او د دې حقیقت ګواه دی چې:)**

إِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ﴿٣﴾

**ته( د قرآن د حامل په حیث د الله تعالی) رسول یې.**

عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٤﴾

**( او بې له شکه او شبهې) په مستقیمه(حقه) لار روان یې.**

تَنزِيلَ ٱلۡعَزِيزِ ٱلرَّحِيمِ ﴿٥﴾

**(دا قرآن) د برلاسی او مهربان خدای له لوری نازل شوی دی.**

لِتُنذِرَ قَوۡمٗا مَّآ أُنذِرَ ءَابَآؤُهُمۡ فَهُمۡ غَٰفِلُونَ ﴿٦﴾

**تر څو وربانديې هغه (عربی) ولس( او ټولې بشری پرګنې د کفر او شرک له ناوړو عواقبو او الهی عذاب نه) وویروې چې( پخوانی) پلرونه نیکونه یې هم تنبیه شوی وو( خو په تیرو دوه - دوه نیم زرو کالو کې ورته پیغمبر نه دی راغلی او له همدې امله له الهی احکامو) بې خبره او په غفلت کې پاتې دی.**

لَقَدۡ حَقَّ ٱلۡقَوۡلُ عَلَىٰٓ أَكۡثَرِهِمۡ فَهُمۡ لَا يُؤۡمِنُونَ ﴿٧﴾

**د زیاتره هغو کسانو په باب( چې د اسلام او پیغمبر دښمنۍ ته یې ټینګه ملا تړلې)د عذاب فرمان نازل شوی نو ځکه خو ایمان نه راوړی( او د ایمان راوړلو توفیق او همت ترې سلب شوی دی).**

إِنَّا جَعَلْنَا فِيٓ أَعْنَٰقِهِمْ أَغْلَٰلًا فَهِيَ إِلَى ٱلْأَذْقَانِ فَهُم
مُّقْمَحُونَ ﴿٨﴾

موږ( د کافرانو او مجرمينو) په غاړو کې( د عاداتو، رسومو، شخصي هوسونو او پلرونو نيکونو د تقليد) ځنځيرونه اچولي چې تر ستونو يې نيولي او( د نخوت او تکبر له امله يې) سرونه پورته پاتې دي (او د روښانه حقيقت په وړاندې هم نه راټيټيږي او توجه ورته نه کوي).

وَجَعَلْنَا مِنۢ بَيْنِ أَيْدِيهِمْ سَدًّا وَمِنْ خَلْفِهِمْ سَدًّا فَأَغْشَيْنَٰهُمْ
فَهُمْ لَا يُبْصِرُونَ ﴿٩﴾

د دوی چار چاپيره( د جهالت او تعصب داسې) ديوالونه جوړ شوي چې دوی يې کاملاً پوښلي او( څرګند واقعيتونه او حقايق هم) نشي ليدلی.

وَسَوَآءٌ عَلَيْهِمْ ءَأَنذَرْتَهُمْ أَمْ لَمْ تُنذِرْهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠﴾

که يې تنبيه کړې، که يې تنبيه نه کړې( دواړه) ورته يو شان دي او ايمان نه راوړي.

إِنَّمَا تُنذِرُ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلذِّكْرَ وَخَشِيَ ٱلرَّحْمَٰنَ بِٱلْغَيْبِ ۖ فَبَشِّرْهُ
بِمَغْفِرَةٍ وَأَجْرٍ كَرِيمٍ ﴿١١﴾

ستا پند او نصيحت يوازې د هغو خلکو لپاره ګټور ثابتيږي چې د( قرآن) پيروي کوي او په غائبانه توګه له رحمان (خدای له عذاب) نه ويريږي نو هغه ته د مغفرت او نيک اجر زيری ورکړه.

إِنَّا نَحْنُ نُحْيِ ٱلْمَوْتَىٰ وَنَكْتُبُ مَا قَدَّمُوا۟ وَءَاثَٰرَهُمْ ۚ وَكُلَّ شَىْءٍ
أَحْصَيْنَٰهُ فِيٓ إِمَامٍ مُّبِينٍ ﴿١٢﴾

او همدا موږ يو چې مړي راژوندی کوو، او د هغوی وړاندې راليږل شوي(نيک او بد اعمال)او ترې پاتې شوي اثار(کتابونه، ودانۍ او بنسټونه) ټول له يوې مخې ليکو، او ټول مو په يوه روښانه کتاب( لوح محفوظ) کې ثبت کړي دي.

وَٱضْرِبْ لَهُم مَّثَلًا أَصْحَٰبَ ٱلْقَرْيَةِ إِذْ جَآءَهَا ٱلْمُرْسَلُونَ ﴿١٣﴾

( او ای پیغمبره! د حق دعوت دښمنانو ته) د هغه ښار د خلکو مثال وړاندې کړه چې پیغمبران ورته ورغلی وو.

إِذۡ أَرۡسَلۡنَآ إِلَيۡهِمُ ٱثۡنَيۡنِ فَكَذَّبُوهُمَا فَعَزَّزۡنَا بِثَالِثٖ فَقَالُوٓاْ إِنَّآ إِلَيۡكُم
مُّرۡسَلُونَ ١٤

مونږ دوه پیغمبران ورولیږل خو خلکو دواړه دروغ وګڼل، بیا مو دریم رسول د هغوی د تائید او پیاوړتیا لپاره ورواستاوه، او دریواړو ورته وویل چې مونږ تاسو ته( د الله تعالی له لوری ) رالیږل شوی یو.

قَالُواْ مَآ أَنتُمۡ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا وَمَآ أَنزَلَ ٱلرَّحۡمَٰنُ مِن شَيۡءٍ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا
تَكۡذِبُونَ ١٥

د ښار خلکو وویل تاسو خو زمونږ په شان انسانان یی او رحمان( خدای) هیڅ شی نه دی نازل کړی، تاسو صرف جوړ کړی دروغ راوړی.

قَالُواْ رَبُّنَا يَعۡلَمُ إِنَّآ إِلَيۡكُمۡ لَمُرۡسَلُونَ ١٦

پیغمبرانو وویل: زمونږ رب پوهیږی( او ګواه دی) چې مونږ یې تاسو ته رالیږلی یو.

وَمَا عَلَيۡنَآ إِلَّا ٱلۡبَلَٰغُ ٱلۡمُبِينُ ١٧

او زمونږ وظیفه او مسئولیت یوازې ( د الهی وحې) علانیه ابلاغول دی.

قَالُوٓاْ إِنَّا تَطَيَّرۡنَا بِكُمۡۖ لَئِن لَّمۡ تَنتَهُواْ لَنَرۡجُمَنَّكُمۡ وَلَيَمَسَّنَّكُم مِّنَّا
عَذَابٌ أَلِيمٞ ١٨

( خلکو) وویل: ستاسو قدم زمونږ لپاره بدمرغه او سپیره دی، که له خپل دعوت نه لاس په سر نشی، سنګسار به مو کړو، او سختې شکنجې به درکړو.

قَالُواْ طَٰٓئِرُكُم مَّعَكُمۡۚ أَئِن ذُكِّرۡتُمۚ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ
مُّسۡرِفُونَ ١٩

(پيغمبرانو) وويل: بدفالي ستاسو خپله( او د کفر او طغيان نتيجه مو ده، عجيبه خو داده چې) که تاسو ته پند او نصيحت وشي( نو د نيکمرغۍ په ځای ورته د بد مرغۍ او بد فالي نوم ورکوئ، نه- زمونږ قدم سپيره نه دی) بلکه تاسو پخپله تيری کوونکي ياست.

وَجَآءَ مِنۡ أَقۡصَا ٱلۡمَدِينَةِ رَجُلٞ يَسۡعَىٰ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱتَّبِعُواْ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٢٠

او د ښار له ليرې سيمې يو سړی په منډه منډه راغی ويل يې: ای قومه د الله د رسولانو اطاعت وکړئ.

ٱتَّبِعُواْ مَن لَّا يَسۡـَٔلُكُمۡ أَجۡرٗا وَهُم مُّهۡتَدُونَ ٢١

( د هغو پيغمبرانو) پيروی وکړئ چې ستاسو نه هيڅ اجوره او معاوضه نه غواړي او د هدايت په لاره روان دي.

وَمَا لِيَ لَآ أَعۡبُدُ ٱلَّذِي فَطَرَنِي وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ٢٢

او په ما څه شوي چې (په پوره يقين سره) د هغه ذات عبادت ونه کړم چې زه يې پيدا کړی يم او تاسو هم( له مرگه وروسته) د هغه حضور ته ورگرځئ.

ءَأَتَّخِذُ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً إِن يُرِدۡنِ ٱلرَّحۡمَٰنُ بِضُرّٖ لَّا تُغۡنِ عَنِّي شَفَٰعَتُهُمۡ شَيۡـٔٗا وَلَا يُنقِذُونِ ٢٣

آيا د ( الله تعالی) په ځای د هغو باطلو خدايانو عبادت وکړم چې که رحمان (خدای) ماته د کومې صدمې رسولو اراده وکړي، نه د دوی سپارښت زما په درد خوري او نه مې (له ستونزو او کړاوونو) خلاصولی شي.

إِنِّيٓ إِذٗا لَّفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ٢٤

( که زه د باطلو خدايانو عبادت وکړم نو) يقيناً چې( په روڼ لاس) به مې بې لارې ته مخه کړې وي.

إِنِّيٓ ءَامَنتُ بِرَبِّكُمۡ فَٱسۡمَعُونِ ٢٥

( ای خلکو!) ما ستاسو په رب ايمان راوړی نو زما خبره واورئ.

قِيلَ ٱدۡخُلِ ٱلۡجَنَّةَۖ قَالَ يَٰلَيۡتَ قَوۡمِي يَعۡلَمُونَ ٢٦

( كله چې دغه مؤمن شخصيت د مشركانو له خوا شهيد كړى شو،د الله تعالى له خوا ورته وويل شول:) جنت ته ننوځه. هغه وويل كاش زما قوم خبر شوى وى.

بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُكْرَمِينَ ﴿٢٧﴾

چې زه خپل رب ببښلى يم او د عزت او وقار په مقام يې سرلوړى كړى يم.

۞ وَمَا أَنزَلْنَا عَلَىٰ قَوْمِهِ مِن بَعْدِهِ مِن جُندٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَمَا كُنَّا
مُنزِلِينَ ﴿٢٨﴾

او د هغه( د شهادت) نه وروسته مو، د هغه د قوم (د تباه كولو لپاره) له آسمانه هيڅ پوځى قوت نه دى استولى او نه مو ورباندې د پوځى عملياتو اراده كړې وه.

إِن كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ خَامِدُونَ ﴿٢٩﴾

بس( سزا) يې يوه تباه كوونكې صيحه(چيغه) وه چې په اوريدو يې ټول له يوې مخې، مړه جسدونه پراته وو.

يَا حَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ مَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلَّا كَانُوا بِهِ
يَسْتَهْزِئُونَ ﴿٣٠﴾

افسوس په هغو خلكو چې هر پيغمبر ورته راغلى نو په ملنډو او مسخرو يې توهين كړى دى.

أَلَمْ يَرَوْا كَمْ أَهْلَكْنَا قَبْلَهُم مِّنَ الْقُرُونِ أَنَّهُمْ إِلَيْهِمْ لَا
يَرْجِعُونَ ﴿٣١﴾

آيا ( د مكې مشركين) نه پوهيږى چې له دوى نه وړاندې، مونږ ډير قومونه( د هغوى د كفر او سركشۍ له امله) تباه كړى چې بيرته دوى ته نه راګرځى( او نه به په دنيا كې د ژوند فرصت پيدا كړى).

وَإِن كُلٌّ لَّمَّا جَمِيعٌ لَّدَيْنَا مُحْضَرُونَ ﴿٣٢﴾

او مونږ به دوى ټول يو ځاى( او بې له كومې استثناء ) راغونډ او( د قيامت په ورځ به يې) خپل حضور ته احضار كړو.

وَءَايَةٞ لَّهُمُ ٱلۡأَرۡضُ ٱلۡمَيۡتَةُ أَحۡيَيۡنَٰهَا وَأَخۡرَجۡنَا مِنۡهَا حَبّٗا فَمِنۡهُ
يَأۡكُلُونَ ٣٣

**او د دې مړې او وچې ځمکې راژوندی کول او له هغې نه د خلکو د خوراک لپاره د ډول ډول دانو( نباتاتو) راټوکيدل، د دوی لپاره( د بعث بعدالموت د ستر او مسلم حقيقت) لوی دليل دی.**

وَجَعَلۡنَا فِيهَا جَنَّٰتٖ مِّن نَّخِيلٖ وَأَعۡنَٰبٖ وَفَجَّرۡنَا فِيهَا مِنَ
ٱلۡعُيُونِ ٣٤

**( مونږ په ځمکه کې) د کجورو او انګورو د باغونو جوړولو( شرايط) برابرروو، او( د رڼو اوبو) بيلابيلې چينې مو پکې روانې کړې دی.**

لِيَأۡكُلُواْ مِن ثَمَرِهِۦ وَمَا عَمِلَتۡهُ أَيۡدِيهِمۡۚ أَفَلَا يَشۡكُرُونَ ٣٥

**تر څو ترې ميوې وخوری او په لاس جوړ شوې( عصارې او شربتونه) ترې وڅښی نو ولې ( د دغو الهی نعمتونو) شکر نه اداء کوی.**

سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلۡأَزۡوَٰجَ كُلَّهَا مِمَّا تُنۢبِتُ ٱلۡأَرۡضُ وَمِنۡ
أَنفُسِهِمۡ وَمِمَّا لَا يَعۡلَمُونَ ٣٦

**( له هر ډول عيب او نيمګړتيا او د شرک له اثارو نه مبرا او) پاک دی د الله تعالی ذات چې د ځمکې ټول پيداوار او انسانان او هغه شيان چې لا چاته معلوم نه دی جوړه جوړه پيدا کړی دی.**

وَءَايَةٞ لَّهُمُ ٱلَّيۡلُ نَسۡلَخُ مِنۡهُ ٱلنَّهَارَ فَإِذَا هُم مُّظۡلِمُونَ ٣٧

**او د خلکو لپاره (زمونږ د قدرت او حکمت) يوه نښانه شپه ده چې مونږ ترې ورځ ليرې او د تورې تيارې پرده پرې راخپره کړو .**

وَٱلشَّمۡسُ تَجۡرِي لِمُسۡتَقَرّٖ لَّهَاۚ ذَٰلِكَ تَقۡدِيرُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡعَلِيمِ ٣٨

**او لمر(هم د هغوی لپاره زمونږ د قدرت يوه نښانه ده چې په يوه ثانيه کې د شلو کيلو مترو په چټک رفتار سره )د خپلې اصلی قرارګاه په لور روان دی. دا دی د برلاسی او پوه ذات( الله تعالی) وضع کړی شوی حساب او اندازه.**

وَٱلۡقَمَرَ قَدَّرۡنَٰهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ كَٱلۡعُرۡجُونِ ٱلۡقَدِيمِ ﴿٣٩﴾

**او د سپوږمۍ لپاره مو (تدریجی) پړاوونه ټاکلی چې له هغو څخه په تیریدو، د خرما د زړې څانګې په شان زیړه زبیښلې پاتې شی.**

لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِي لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِۚ وَكُلّٞ فِي فَلَكٖ يَسۡبَحُونَ ﴿٤٠﴾

**نه په لمر کې دا زور او طاقت شته چې سپوږمۍ ته ورسی او نه شپه له ورځې وړاندې کیدی شی بلکه هر یو پخپل خپل مدار چورلی.**

وَءَايَةٞ لَّهُمۡ أَنَّا حَمَلۡنَا ذُرِّيَّتَهُمۡ فِي ٱلۡفُلۡكِ ٱلۡمَشۡحُونِ ﴿٤١﴾

**او د هغوی لپاره زمونږ( د قدرت او رحمت) بله نښانه داده چې د دوی اولاد( د آدم نسل مو د انسانی نسل د بقا لپاره د اجناسو او وسایلو سره د تاریخ  په لومړنۍ) ډکه کښتۍ کې ولیږدول.**

وَخَلَقۡنَا لَهُم مِّن مِّثۡلِهِۦ مَا يَرۡكَبُونَ ﴿٤٢﴾

**او بیا مو  ( انسانانو ته) د سپرلۍ لپاره د هماغی کښتۍ په شان ( نور ځمکنی او هوایی نقلیه وسایل) هم پیدا کړل( او د هغو تکنالوژی او مهارتونه مو ورته په لاس ورکړل).**

وَإِن نَّشَأۡ نُغۡرِقۡهُمۡ فَلَا صَرِيخَ لَهُمۡ وَلَا هُمۡ يُنقَذُونَ ﴿٤٣﴾

**او که مو اراده کړې وی هغوی به مو داسې ډوب کړی وی  چې هیڅ فریاد اوریدونکی به یې نه وی او نه به ژغورل شوی وی.**

إِلَّا رَحۡمَةٗ مِّنَّا وَمَتَٰعًا إِلَىٰ حِينٖ ﴿٤٤﴾

**خو یوازې زمونږ په رحمت( او مهربانۍ سره وژغورل شول ترڅو دوی او راتلونکی نسل یې) تر یوې ټاکلې مودې په دنیا کې ژوند وکړی.**

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱتَّقُواْ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيكُمۡ وَمَا خَلۡفَكُمۡ لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُونَ ﴿٤٥﴾

**او کله چې هغوی ته وویل شی له هغو(عذابونو څخه) چې مخې ته مو راروان دی او ستاسو نه پخوا هم تیر شوی، ځانونه وژغوری، ترڅو د الله تعالی د رحمت وړ وګرځی( نو دوی دغو قاطعانه اخطارونو ته هیڅ پاملرنه نه کوی).**

وَمَا تَأْتِيهِم مِّنْ ءَايَةٍ مِّنْ ءَايَٰتِ رَبِّهِمْ إِلَّا كَانُوا۟ عَنْهَا مُعْرِضِينَ ﴿٤٦﴾

**او هر آيت( او حکم) چې د دوی د رب له آيتونو( او احکامو) ورته راځی، دوی ترې مخ اړوی.**

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ أَنفِقُوا۟ مِمَّا رَزَقَكُمُ ٱللَّهُ قَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لِلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟

أَنُطْعِمُ مَن لَّوْ يَشَآءُ ٱللَّهُ أَطْعَمَهُۥٓ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ﴿٤٧﴾

**او چې ورته وويل شی، د الله تعالی له درکړی شوې رزق نه( بې وزلو او مسکينانو ته) انفاق وکړی، نو کافران مؤمنانو ته وايی: آيا هغو خلکو ته روزی ورکړو چې که الله تعالی غوښتلی پخپله به يې روزی ورکړی وی( بلکه ولږه او بې وسی ورته په تقدير کې ليکل شوې ده) تاسو خو په ځرګنده ګمراهی کې روان يئ (چې دا ډول کسانو ته خيراتونه غواړئ).**

وَيَقُولُونَ مَتَىٰ هَٰذَا ٱلْوَعْدُ إِن كُنتُمْ صَٰدِقِينَ ﴿٤٨﴾

**او وايی که رښتونی ياست نو ووايئ چې (د قيامت) وعده کله پوره کيږی.**

مَا يَنظُرُونَ إِلَّا صَيْحَةً وَٰحِدَةً تَأْخُذُهُمْ وَهُمْ يَخِصِّمُونَ ﴿٤٩﴾

**دوی صرف يوې( آسمانی) مرګونی چيغې ( لومړئ شپيلئ)ته انتظار باسی، هغه به يې په داسې حال کې يې راونيسی چې دوی به( په دنيوی چارو کې) کې پخپلو کې سره په جنجالونو او ناندريو اخته وی.**

فَلَا يَسْتَطِيعُونَ تَوْصِيَةً وَلَآ إِلَىٰٓ أَهْلِهِمْ يَرْجِعُونَ ﴿٥٠﴾

**( داسې چيغه چې په اوريدو به يې) وصيت کولو ته هم فرصت پيدا نه کړی( او که له کورونو بهر وی نو) خپلو کورنيو ته به ستانه هم نشی.**

وَنُفِخَ فِى ٱلصُّورِ فَإِذَا هُم مِّنَ ٱلْأَجْدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يَنسِلُونَ ﴿٥١﴾

**او( بيا به د دويمې) شپيلئ له وهلو سره سم دوی ټول له خپلو قبرونو څخه د خپل رب حضور ته په منډو وی.**

قَالُوا۟ يَٰوَيْلَنَا مَنۢ بَعَثَنَا مِن مَّرْقَدِنَا ۜ هَٰذَا مَا وَعَدَ ٱلرَّحْمَٰنُ وَصَدَقَ

ٱلْمُرْسَلُونَ ﴿٥٢﴾

**وایی به ای افسوس په مونږ. چا له خپلو قبرونو راپورته کړو؟( ورته به وویل شی:) دا هغه(واقعی دویم ژوندون) دی چې رحمان( خدای) یې وعده کړې وه او پیغمبرانو هم( تاسو ته د هغه د راتګ) ریښتونی خبر درکړی و.**

إِن كَانَتْ إِلَّا صَيْحَةً وَاحِدَةً فَإِذَا هُمْ جَمِيعٌ لَّدَيْنَا
مُحْضَرُونَ ﴿٥٣﴾

**دا یوازې د یوې چیغې نتیجه ده چې ناڅاپه به ټول راجمع او زمونږ په حضور کې به ودریږی.**

فَالْيَوْمَ لَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا وَلَا تُجْزَوْنَ إِلَّا مَا كُنتُمْ
تَعْمَلُونَ ﴿٥٤﴾

**نن به په هیڅ یوه ذره ظلم هم نه کیږی بلکه هر یو به صرف د خپل عمل ثمره ووینی.**

إِنَّ أَصْحَابَ الْجَنَّةِ الْيَوْمَ فِي شُغُلٍ فَاكِهُونَ ﴿٥٥﴾

**نن به جنتیان په پوره سوکالی او خوشحالی کې وی.**

هُمْ وَأَزْوَاجُهُمْ فِي ظِلَالٍ عَلَى الْأَرَائِكِ مُتَّكِئُونَ ﴿٥٦﴾

**هغوی او میرمنې به یې تر( ګڼو ګورو) سیورو لاندې په تختونو تکیه وهلی ناست وی.**

لَهُمْ فِيهَا فَاكِهَةٌ وَلَهُم مَّا يَدَّعُونَ ﴿٥٧﴾

**(ډول ډول غوره او مطبوع) میوې او نور هرڅه به ورته د دوی د غوښتنې سره سم راوړل کیږی.**

سَلَامٌ قَوْلًا مِّن رَّبٍّ رَّحِيمٍ ﴿٥٨﴾

**د مهربان رب له لوری به یې ورباندې سلامونه ویل کیږی.**

وَامْتَازُوا الْيَوْمَ أَيُّهَا الْمُجْرِمُونَ ﴿٥٩﴾

**( او غږ به کیږی چې) ای مجرمینو نن (د نیکانو له صفونو ) جلا شی.**

۞أَلَمۡ أَعۡهَدۡ إِلَيۡكُمۡ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ أَن لَّا تَعۡبُدُواْ ٱلشَّيۡطَٰنَۖ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٞ ٦٠

ای د آدم اولاده! آیا تاسو ته مو نصیحت نه و کړی چې د شیطان پیروی مه کوئ، هغه ستاسو ښکاره دښمن دی.

وَأَنِ ٱعۡبُدُونِيۚ هَٰذَا صِرَٰطٞ مُّسۡتَقِيمٞ ٦١

او زما عبادت وکړئ چې دا (د هدایت) مستقیمه لار ده .

وَلَقَدۡ أَضَلَّ مِنكُمۡ جِبِلّٗا كَثِيرًاۖ أَفَلَمۡ تَكُونُواْ تَعۡقِلُونَ ٦٢

او شیطان ستاسو زیاتره کسان بې لارې کړل نو آیا له عقل او فکر نه کار نه اخلئ( او نه پوهیږئ چې د شیطان پیروان بالاخره له کوم ناوړه عاقبت او انجام سره مخامخ شول؟)

هَٰذِهِۦ جَهَنَّمُ ٱلَّتِي كُنتُمۡ تُوعَدُونَ ٦٣

اوس دا هماغه دوزخ دی چې ستاسو سره یې وعده شوې وه.

ٱصۡلَوۡهَا ٱلۡيَوۡمَ بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ٦٤

هغه ته ورننوزئ، دا ستاسو د کفری( عقیدې او اعمالو) سزا ده.

ٱلۡيَوۡمَ نَخۡتِمُ عَلَىٰٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَتُكَلِّمُنَآ أَيۡدِيهِمۡ وَتَشۡهَدُ أَرۡجُلُهُم بِمَا كَانُواْ يَكۡسِبُونَ ٦٥

مونږ به نن د هغوی په خولو د سکوت ټاپې ولګوو، او لاسونه به یې زمونږ سره خبرې کوی او پښې به یې د دوی په ناوړو اعمالو ګواهی ورکوی.

وَلَوۡ نَشَآءُ لَطَمَسۡنَا عَلَىٰٓ أَعۡيُنِهِمۡ فَٱسۡتَبَقُواْ ٱلصِّرَٰطَ فَأَنَّىٰ يُبۡصِرُونَ ٦٦

او( لکه څنګه چې دوی زمونږ د قدرت د نښو له لیدلو منکر دی) که مونږ اراده کړې وی، د دوی سترګې به مو ړندې کړې وی چې په لاره به روان وی خو هیڅ به یې لیدی نه شوی.

وَلَوۡ نَشَآءُ لَمَسَخۡنَٰهُمۡ عَلَىٰ مَكَانَتِهِمۡ فَمَا ٱسۡتَطَٰعُواْ مُضِيّٗا وَلَا يَرۡجِعُونَ ﴿٦٧﴾

او كه مو اراده كړې وى هر يو به مو پخپل خپل ځاى مسخ كړى( او لكه وچه ډېره درولى وى) چې وړاندې وروسته به له حركت نه پاتې و .

وَمَن نُّعَمِّرۡهُ نُنَكِّسۡهُ فِي ٱلۡخَلۡقِۚ أَفَلَا يَعۡقِلُونَ ﴿٦٨﴾

( دغه د بصارت او قوت سلبول او د وجود مسخ كول ناممكن مه ګڼئ) كله چې د انسان د ژوند موده اوږده كړو او د زړښت پړاو ته ورسي، نو په تدريج سره د خلقت لومړى پړاو ته روان شى( د ليدلو، اوريدلو، ګرځيدو راګرځيدو او حافظې قوت له لاسه وركوى او د ماشوم په شان د نورو مرستې ته اړ كيږى) نو آيا دوى له تعقل او تفكر نه كار نه اخلى( او نه پوهيږى چې الله تعالى لكه څنګه چې ژوند زياتولى كمولى شى، د مړو په بيا را ژوندى كيدو هم كامل قدرت لرى).

وَمَا عَلَّمۡنَٰهُ ٱلشِّعۡرَ وَمَا يَنۢبَغِي لَهُۥٓۚ إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ وَقُرۡءَانٞ مُّبِينٞ ﴿٦٩﴾

او مونږ پيغمبر ته شعر نه دى ورزده كړى، او نه( شعر ويل) د هغه له شان سره مناسب دى، هغه كتاب( چې ده ته وركړى شوى) د پند او نصيحت سرچينه او له حقايقو ډک قرآن دى( نه شاعرانه تخيلات او نه د شعر ديوان).

لِّيُنذِرَ مَن كَانَ حَيّٗا وَيَحِقَّ ٱلۡقَوۡلُ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٧٠﴾

تر څو هغه كسان( چې د عقل، فكر او استعداد په قوت) ژوندى دى تنبيه كړى، او په كافرانو( او قرآن نه منونكو) باندې حجت تمام او( د عذاب فرمان) ثابت شى.
==================

أَوَلَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّا خَلَقۡنَا لَهُم مِّمَّا عَمِلَتۡ أَيۡدِينَآ أَنۡعَٰمٗا فَهُمۡ لَهَا مَٰلِكُونَ ﴿٧١﴾

آيا نه وينى( بلكه ښه يې وينئ) چې څاروى مو پخپل قدرت د دوى د ګټې اخستو لپاره پيدا كړى، چې دوى يې مالكان دى.

وَذَلَّلۡنَٰهَا لَهُمۡ فَمِنۡهَا رَكُوبُهُمۡ وَمِنۡهَا يَأۡكُلُونَ ﴿٧٢﴾

او( عظيم الجثه) څاروى مو ورته تابع كړى چه له ځينو يې د سپرلى لپاره كار اخلى او له ځينو يې غوښې خورى.

وَلَهُمْ فِيهَا مَنَٰفِعُ وَمَشَارِبُ ۖ أَفَلَا يَشْكُرُونَ ﴿٧٣﴾

او په دغو څارويو کې د دوی لپاره (بیلابیلې) ګټې پرتې دي، او(له لبنیاتو څخه یې) هم څښي. نو آیا( په دغو الهی نعمتونو د خپل رب) شکر نه په ځای کوي؟

وَٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِ ٱللَّهِ ءَالِهَةً لَّعَلَّهُمْ يُنصَرُونَ ﴿٧٤﴾

او (مشرکانو) د الله تعالی په ځای، داسې( باطل او خود ساخته) خدایان غوره کړي چې فکر کوي د هغوی په وسیله به ورسره مرسته وشي.

لَا يَسْتَطِيعُونَ نَصْرَهُمْ وَهُمْ لَهُمْ جُندٌ مُّحْضَرُونَ ﴿٧٥﴾

(په داسې حال کې چې) هیڅ مرسته ورسره نشی کولی، بلکه دغه جاهلان( په حقیقت کې) د خپلو بتانو آماده باش سپاهیان دی چې( هم یې درګاوې سینګاروی او هم ورته د الله تعالی بندګان رابلی ).

فَلَا يَحْزُنكَ قَوْلُهُمْ ۘ إِنَّا نَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٦﴾

نو( ای پیغمبره!) د دوی په اوتو بوتو، مه خواشینی کېږه، یقیناً چې مونږ ته د دوی پټ (حسد او بغض) او څرګند( کفر او عناد) ډیر ښه معلوم دی.

أَوَلَمْ يَرَ ٱلْإِنسَٰنُ أَنَّا خَلَقْنَٰهُ مِن نُّطْفَةٍ فَإِذَا هُوَ خَصِيمٌ مُّبِينٌ ﴿٧٧﴾

آیا انسان( خپل اصلیت او ماهیت ته) نه ګوری، چې مونږ هغه له یوې( نا چیزې او بی ارزښته) نطفې( یوه څاڅکی اوبو) نه پیدا کړی( او د داسې نطق او بیان قوت مو ورکړی چې په هره خبره جګړې او مناقشې کوی او حتی د خپل رب په مقابل کې هم) د ښکاره دښمنی په سنګر کې ولاړ دی.

وَضَرَبَ لَنَا مَثَلًا وَنَسِىَ خَلْقَهُۥ ۖ قَالَ مَن يُحْىِ ٱلْعِظَٰمَ وَهِىَ

رَمِيمٌ ﴿٧٨﴾

په داسې حال کې چې خپل خلقت یې هیرکړی، زمونږ لپاره مثالونه وړاندې کوی او وایی څوک به وراسته او رژیدلی هدوکی راژوندی کړی؟

قُلْ يُحْيِيهَا ٱلَّذِىٓ أَنشَأَهَآ أَوَّلَ مَرَّةٍ ۖ وَهُوَ بِكُلِّ خَلْقٍ عَلِيمٌ ﴿٧٩﴾

ورته ووایه: هماغه (مقتدر ذات الله تعالی) به یې راژوندی کړی چې تاسو یې لومړی ځل( له نیست نه) هست کړیٰ او بیشکه چې هغه ته د خپلو مخلوقاتو ذره ذره هم معلومه ده.

ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُم مِّنَ ٱلشَّجَرِ ٱلْأَخْضَرِ نَارًا فَإِذَآ أَنتُم مِّنْهُ
تُوقِدُونَ ﴿٨٠﴾

**هغه ذات چې ستاسو لپاره يې له شنې ونې اورلګيت راپيدا کړ چې تاسو وربانديې اورونه بلوئ.**

أَوَلَيْسَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ بِقَٰدِرٍ عَلَىٰٓ أَن يَخْلُقَ مِثْلَهُمۚ
بَلَىٰ وَهُوَ ٱلْخَلَّٰقُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٨١﴾

**آيا همدغه ذات چې آسمانونه او ځمکه( او لويې لويې کرې) يې پيدا کړې، دا قدرت نه لرې چې دوی پس له مرګه بيرته راژوندی کړی، هو( بيشکه چې الله تعالی په دغه کار پوره برلاسی دئ) او هم دی دی اصلی خلاق او په ټولو چارو پوه.**

إِنَّمَآ أَمْرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيْـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٨٢﴾

**د الله تعالی شان او عظمت دا دی چې کله د يوه کار اراده وکړی، همدومره امر ورته کوی چې پيدا شه او هماغه شی بې له ځنډه پيدا وی.**

فَسُبْحَٰنَ ٱلَّذِى بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَىْءٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾

**نو پاکی ده د الله تعالی ذات ته چې د ټولو موجوداتو او مخلوقاتو مالکيت او سلطنت د هغه په واک کې دی او ټول بالاخره د هغه حضور ته ورګرځيدونکی دی.**

**« تمت سورة ياسين بفضل الله و رحمته والحمد لله رب العالمين»**

**====================**